Pashto

Kristiansand kommune


Fritidsfond

# د تفریحي فعالیتونو فنډ یا صندوق

د تفریحي فعالیتونو د فنډ (Fritidsfond) موخه دا ده چې زیات شمېر هغه ماشومان او تنکي ځوانان په دوامداره توګه په تنظیم شویو تفریحي فعالیتونو کې برخه واخلي، چې مېندې او پلرونه یې د یادو فعالیتونو د مالي لګښت د ورکولو توان نلري.
د تفریحي فعالیتونو فنډ په کریستیانساند ښاروالۍ (کمون) کې د هغو کوچنیانو او ځوانانو لپاره دی چې عمرونه یې تر ۱۸ کالو پورې وي.







**تاسو د کومو شیانو لپاره د مالي مرستې غوښتنه کولای شئ؟**

- د هغو ماشومانو او ځوانانو لپاره، چې په تنظیم شویو تفریحي فعالیتونو کې برخه اخلي، د غړیتوب د ونډې او د اړینو وسایلو لګښت لپاره.
- د هغو سفرونو، فعالیتونو، تورتمنتونو او داسې نورو شیاتو لګښتونه چې د تنظیم شویو تفریحي فعالیتونو سره تړاو ولري.
- په تفریحي فعالیتونو پورې د اړوندو لګښتونو اندازه په کال کې تر ۱۰۰۰۰ (لس زره) کرونو پورې ده.

**څوک د مالي مرستې غوښتنه کولای شي؟**

مېندې او پلرونه، سرپرست او هغه کسان چې مېندو او پلرونو ورته قانوني واک ورکړی وي. مونږ تاسو ته سپارښتنه کوو چې په دې اړه زمونږ په انترنت پاڼه کې معلومات ولولئ تر څو معلومه کړئ چې د تفریحي فعالیتونو فنډ ستاسو لپاره دی او که نه.

**د غوښتنلیک وروستۍ نېټه او فورمه**

د غوښتنلیک وړاندې کولو بهیر په پرله پسې توګه دی او تاسو کولای شئ د ټول کال په اوږدو کې د مالي مرستې غوښتنه وکړئ. د تفریحي فعالیتونو د فنډ مالي مرسته یوې کورنۍ ته نه،
بلکې په مستقیمه توګه سازمان یا ټیم ته ورکول کیږي.

آیا د غوښتنلیک په اړه مرستې ته اړتیا لرئ؟
که غواړئ چې د غوښتنلیک د فورمې په ډکولو کې مرسته ترلاسه کړئ، کولای شئ د ښاروالۍ د مراجعې دفتر (innbyggertorg) ته د کاري ساعتونو په وخت کې ورشئ.

---

د غوښتنلیک فورمه او لا زیات معلومات په لاندې انترنت پاڼه کې موندلای شئ:
kristiansand.kommune.no/fritidsfond